عبدالباري جهاني

۲۰۱۹/۰۴/۱۵

# د سولې سره ناروا لوبې

دا چې سوله په افغانستان کې څومره مهمه او حياتي مسله ده، پر دې خبرې باندې ځکه بحث په کار نه دی چې د سولې په قدر او اهميت يوازې هغه مظلوم اولسونه پوهيږي چې له سهاره تر ماښامه د جنګ په لمبو کې سوځي « مځکه هغه سوځي چې اور پر بل وي» مونږ د اروپا او امريکا په سيورې کې ناست افغانان، چې لا هر يو د ژوند پر ټولو نعمتونو باندې ناشکره هم يو، د سولې په طرحو يوازې د خپلې ليکوالۍ تمرين کوو .

د ۲۰۰۱ کال د نومبر په مياشت کې، چې د طالبانو نظام، د امريکا او ناټو د بمباريو په وجه، ونړېدی؛ او طالبان هري خواته په تېښته کې وه، د طالبانو مشرانو، د بُن د جرګې له خوا ټاکل سوي جمهورريس حامدکرزي ته د تسليمېدلو په برخه کې د خبرو غوښتنه وکړه. د امريکا د دفاع وزير ډانلډ رمز فيلډ د زور او قدرت نشې دومره مست کړی وو چې له طالبانو سره خبرې کول يې ونه منل او حامد کرزي ته يې وويل چې امريکا يوازې د هغوی بشپړ تسليمېدل مني او بس. طالبان تېښتې ته مجبور سول؛ څوک غرونو او ليرې لوېدلو کليو ته او څوک پاکستان ته ولاړل. رمز فيلډ، د خپل قدرت په زمانه کې، له افغانستان سره هغه څه وکړل چې په تاريخ کې به، له دوستم سره يو ځای، د پښتنو د قصابانو په ليست کې ياديږي .تر دوه زره پنځم او شپږم کال پورې، چې لا طالبانو خپلې قواوې، بيرته نه وې سره را غونډې کړې او لا جنګونه چنداني نه وه پيل سوي نو د رمزفيلډ جنرالانو، د خپلو ساتېريو لپاره، په هيلمند، اوروزګان، کنړ، ننګرهار او نورو پښتني سيمو کې دلته هلته پر فاتحو، جنازو، ښاديو، ښوونځيو او کليو کورونو باندې بمبارۍ کولې. په جنګونو کې د وژل سويو کسانو مړي به يې وسوځول، پر مړو باندې به يې بولې وکړې او د خپلو دې شرموونکو اعمالو ويډيوګانې به يې هم واخيستلې .کله کله به يې لا يوه جنرال کومه يوه نيمه شرمونکې بخښنه هم وغوښته. په دې ترڅ کې د اروزګان، کندهار، هيلمند، ننګرهار، کونړ او نورو سيمو جنګ سالارانو او جنايتکارانو، چې نمونه يې د آنند ګوپال په کتاب کې راغلې دي، د خپلو امريکايي بادارانو د خوشالولو لپاره، په سل هاوو بېګناه انسانان د طالب جنګياليو په نوم د ګوانتانامو، بګرام او نورو زندانونو او شکنجو قرباني کړل .

له دوه زره اتم کال څخه وروسته جنګونو دونه زور واخيست چې نور نو هم د افغانستان حکومت او هم امريکايان د سولې کولو پيشنهادونو او پروګرامونو جوړولو ته مجبور سول. دا چې د پردې تر شا څه تيريږي او څه تېر سول او لا وروسته به څه رنګ اخلي؛ زه ځکه څه نه سم ويلای چې د نورو افغان ليکوالانو په څېر تقريبا هيڅ اطلاعات نه لرم .مګر دونه ضرور ويلای سم چې د يوه مظلوم او بې دفاع اولس په سرنوشت بېرحمانه لوبې کيږي او دغه ګړی د اولس د نارې او فرياد د اورېدلو لپاره يوازې د حق متعال دربار موجود دی .

د سولې له حياتي مسلې سره، چې يوازې بې دفاع او مظلوم اولسونه يې په قدر او ضرورت پوهيږي، د ربانيانو تر رهبرۍ لاندې د سولې د مسخره شورا د جوړېدلو څخه تر اوسه پورې خارجي دښمنان او داخلي ظالمان لوبې کوي .دا پوښتنه به سړی له چا څخه وکړي چې د سولې دغو مضحکو شوراګانو، چې په سلو کې نيوي غړي يې قاتلان او مسلکي غله دي، په دې څه باندې لسو کالو کې، د سولې لپاره څه کړي دي؟ سوال دا دی چې اصلاً سوله ولې شورا ته ضرورت لري؟ سوله او جنګ خو د حکومت د خپلې پاليسی سره اړه لري. حکومت که په ريښتيا د سولې غوښتونکی وي په دوو کلونو کې يې راوستلای سي. دا خبرې اورده بحثونه غواړي او زه يقين لرم چې که په دې اړه پنځه زره مضامين هم وليکل سي نه يوازې به موضوع معلومه نه سي بلکه د يوه او بل ستونې به مو ترخه کړي وي .راسی د حکومت د تازه اعلاميې په باب چې يوه ورځ مخکې يې طالبانو ته صادره کړې ده يو څه وږغيږو .

حکومت طالبانو ته، د سولې د مذاکراتو لپاره، درې سره خطونه کش کړي دي چې له هغو څخه په هيڅ توګه تېرېدلای نه سي. لومړی خو په پښتو کې يو متل دی چې وايي چا په کلي نه پرېښود ده ويل آس مې د ملک په کور کې وتړی. طالبان وايي مونږ د افغنستان له حکومت سره خبرې نه کوو؛ دا د امريکايانو ګوډاګيان دي، دوی د خبرو لپاره سره خطونه ورته کښوي. دا خو په هر صورت .

حکومت وايي له درېو شيانو څخه چې يو يې اسلامي جمهوري نظام دی، بل اساسي قانون او بل انتخابات دي، نه سي تېرېدلای. دا چې نظام اسلامي جمهوريت دی که نه دی؛ په دې کې زه هيڅ نه سم ويلای؛ دا د عالمانو او سياست



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پوهانو کار دی. خو د ملګرو ملتونو او سیګار رپوټونه وایي چي د افغانستان په سلو کي پنځه شپېته خاوره د حکومت د مخالفینو یا طالبانو په لاس کي ده .کله چي یوه حکومت د خپلي خاوري تر نیمایی زیاته برخه له لاسه ورکړې وي او په باقي پاته هیواد کي، د کابل په شمول، امنیت د میلیونونو ډالرو په لګولو او توپکو په زور ساتل کیږي نو دا اسلامي جمهوري نظام په کوم ځای کي قایم دی چي له هغه څخه تېرېدل سره کرښه بولي؟ څه باندي یوه میاشت مخکي د امریکا د سي این این د تلویزیون یوې مشهوري خبریالي د بلخ له ولایت څخه، چي د رژیم د ترټولو لوی پهلوان عطانور شخصي پاچهي ده، رپوټ ورکړ. د بلخ په ولایت کي یې د طالبانو د قضایي، اداري، روغتیایی او تعلیمي چارو، ادارو او فعالیتونو په باره کي رپوټ خپور کړ او د سر په سترګو مو د وسله والو طالبانو پر موټرسایکل سپرو ځوانانو ډلي ولیدې، چي په سپینه ورځ آزاد ګرځېدل. د بلخ له ولایت څخه، چي حکومت یې د خپل نفوذ او قدرت سیمه بولي، د نورو پېښتني سیمو د وضع اټکل کولای سو. نو دا نظام چیري دی؟ چي له هغه څخه تېرېدل حکومت ته دونه مهم دي چي سره کرښه یې بولي .
حکومت وایي چي له اساسي قانون څخه نه سي تېرېدلای. اساسی قانون په ریښتیا هم باید د اداري فساد او مخدره موادو د قاچاق د له منځه وړلو!! او امنیت د ټینګولو!! په څېر د حکومت په لویو لاسته راوړنو کي وشمېرل سي. سړی نه پوهېږي چي اشرف غني، چي یقینا یې د پوهي سطح د افغانستان تر پوهانو او عالمانو په زر چنده لوړه ده؛ ځکه چي دی خو د نړۍ دوهم متفکر دی!! څرنګه په سپینه ورځ د خپل اولس په سترګو ننوزي .د اشرف غني حکومت خو له لومړۍ ورځي تر اوسه پوري، او سبا هم نه ده معلومه، د خپل اساسي قانون په خلاف چلیږي. په اساسي قانون کي خو اولسمشر او د هغه دوه مرستیالان ذکر سوي او وظیفي یې هم معلومي دي. اجراییه رییس او د هغه دوه مرستیالان، چي په هفته کي یو ځل د اولسمشر په څېر د کابیني غونډه کوي، او د هغوی څه باندي دوه سوه مشاورین او په سل هاوو مامورین خو په اساسي قانون کي نسته. دا خو د همدغه اجراییه ریاست برکت دی چي حکومت یې پر دوو مساوي او مخالفو برخو وېشلی او هیڅ کار پر مخ نه ځي. ( دو ګدا دریک ګلیم بګنجد دوشاه در یک اقلیم نګنجد) په زړه پوري خبره خو دا ده چي اولسمشر، د خپل قانوني واک څخه په استفادې سره، د هیواد یو لوی مفسد ضیاءمسعود، چي په دوبی کي په میلیونو ډالره نغد ورسره نیول سوي او ټول جهان په خبر وو، د ښې حکومتولی!! د چارو مشر، او وروسته یې د ،فرمان په زور، خپل دریم مرستیال وټاکی. بیا چي یې خوا ورته بده سوه؛ له بسته سره یې موقوف کړ .مامورینو او مشاورینو ته یې څه ورپېښه سوه. درک یې خدای ته معلوم دی. د ځنګله په پاچهي کي هر څه کېږي.د حکومت لومړی مرستیال، د حضرت صاحب مجددی خالد بن ولید رشید دوستم، خو په دې پنځو کالو کي لږترلږه پنځه ځله د خپل حکومت په مخالفت ولاړ سوی او په دې څه باندي دوو کالو کي یې د کابیني مخ نه دی لیدلی .
د اجراییه ریاست د مقام په باب زما یو سوال دا دی چي که، خدای مه کړه، خوله مي ماته کړې، اشرف غني مړ سو؛ څوک به اولسمشر کیږي .اساسي قانون خو وایي چي د اولسمشر د مړیني په صورت کي به د هغه دوهم مرستیال او د هغه د مړیني په صورت کي به دوهم مرستیال د اولسمشرۍ چاري پر مخ بیا یي .دوستم خو د څه باندي دوو کالو راهیسي په کابینه کي نسته. که د اولسمشر دوهم مرستیال سرورډانش د هغه پر ځای اولسمشر سي نو بیا خو عبدالله، په دې حساب څلورم مقام سو. په داسي حال کي چي هغه خپل ځان له اولسمشر سره مساوي بولي، هره هفته د کابیني غونډې کوي او څو ځله یې ویلي دي چي د اجراییه ریاست مقام د چا تحفه نه ده او ده د وچ مټ په زور ګټلی دی. البته عبدالله، په دې وخت کي، جان کېري ته اشاره نه کوي. بله خبره دا ده چي عبدالله حکومتي مقام دی او که د اپوزیشن مشر؟ ځکه چي هغه دغه کړی، د اولسمشر غني د مشورتي لویی جرګي له طرحي سره، چي د هغه غریب نفس په وخوت، مخالفت اعلان کړی دی. دا کمزوری، تش په نامه نظام، چي هسي یې هم په هیواد کي په سلو کي د پنځه شپېته خاوري کنترول له لاسه ورکړی، په دې توګه د انارشي خواته روان دی. که څه هم چي له مقاماتو سره چنداني غم نسته. که ټوله دنیا اوبه ونیسی، د هیلی تر زنګانه دي. څوک چي په ارګ کي د اوسپني په قلا کي ژوند کوي هغوی د انارشی څه پروا لري .
تر دې لا په زړه پوري د اجراییه ریاست د دوهم مرستیال حاجي محمد محقق مسله ده، چي د اولسمشرۍ د راتلونکو انتخاباتو لپاره یې له کوم بل غله سره، د لومړي مرستیال په حیث، لاس یو کړی دی او اولسمشر غني هغه، له دغه امله، برطرفه کړ. محقق صاحب د اشرف غني کابیني ته نه ورځي مګر د اجراییه رییس د کابیني په ټولو هفته اي غونډو او د وزارتونو د پیشنهاد سویو کړنو په منظوریو کي برخه اخلي. هغه خپل رسمي دفتر او دېوان لري او لکه اشرف غني چي له سره برطرف کړی نه وي بېغمه خپل اجرآت کوي. زه وایم که د جان کېري لپاره، که څه هم چي د اوسني نظام بادارډی خو ظاهراً خارجي دی، په اساسي قانون کي دونه څرګند تغییرات راتللای سي او دومره څرګندي ګډوډی منل کېدلای سي نو د طالبانو سره د احتمالي سولي په خاطر، چي یوه حیاتي مسله ده، په اساسي قانون کي کوم جزیي یا کلی تغییر ولي کفر بولو او ولي یې بد ومنو؟
پاته سوه د انتخاباتو مسله چي اولسمشر ته بنایي تر ټولو سرګربنو مهمه وي؛ ځکه چي امریکایانو وویل چي اشرف غني د افغانستان په ټول تاریخ کي لومړنی مشر دی چي په مسالمت آمیزه توګه یې له خپل سلف څخه قدرت تسلیم کړ او اولسمشر سو. نو دا خو ریښتیا هم ډېره لویه لاسته راوړنه ده. نه یوازي اشرف غني بلکه امریکایان یې هم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

باید تر ټولو مهمه سره کرښه وبولي. مګر دې خبري ته د چا پام نه دی چي دا اوسنی اسلامي جمهوري نظام، او زموږ د خلکو په اصطلاح، دوه سری حکومت خو د همدغو انتخاباتو محصول دی. د اولسمشری د انتخاباتو په نتیجه کي اشرف غني ځان ګټونکی اعلان او ډاکټرعبدالله د هغه اعلان ونه مانه. پښتنو د ګل مرجان یې نه مني اصطلاح ورته جوړه کړه او مطبوعات څه باندي دوې میاشتي ناندریو پر سر اخیستي وه. چي د عبدالله سره د قدرت د وېشلو خبره سوه نو زما ښه په یاد دي چي اشرف غني خپل آواز ته زور ورکړ چي نه یې منو! نه یې منو! نه یې منو! او طرفدارانو به یې هم په چکچکو بدرګه کړ. بالاخره یې، البته د جان کېري په خاطر، ځکه چي پښتنانه خو ډېر مېلمه پالونکي دي، هغه ایتلافي حکومت هم ومانه. تر دې خبري به ځکه را تېرسو چي دا خبري په نړۍ کي ډېري پېښیږی. د امریکا مطبوعات وایي چي جمهوررئیس ډانلډ ټرمپ په دوو کالو کي څه باندي اووه زره ځله دروغ ویلي دي. نو چي د نړۍ تر ټولو د لوی طاقت د جمهوررییس دغه حال وي موږ خو لا غریب او د دوستانو لاس ته محتاج خلک یو .
له اولسمشر سره به ځکه د انتخاباتو حساب نه کوو چي هغه خو پاچا دی .د پاچا خبره څوک غبرګولای سي؟ خو څه باندي دوه کاله کیږي چي د پارلمان وخت پوره سوی او په کار وه چي د نوي پارلمان لپاره انتخابات، ډېر پخوا سوي وای .که انتخابات له دې امله مهم دي چي د خلکو د ارادي ښکارندوی دي نو پارلمان څرنګه څه باندي دوه کاله تر خپل وخت زیات خپل کار ته دوام ورکوي. څه باندي اووه میاشتي کیږي چي د نوي پارلمان لپاره انتخابات وسول. د هغو انتخاباتو نتایج تر اوسه معلوم نه دي. ځکه چي وایی دومره زیات او څرګندغبن پکښی سوی دی چي حتی د افغانستان اوسنی حکومت هم په شرمیږي. که څه هم چي ویل کیږي چي حکومت ځکه نتایج نه سي اعلانولای چي په رایه ګیریو کي د حکومتي مامورینو او مقاماتو د څرګندو مداخلو سره سره هم د رایه ګیری نتایج د حکومت له خوښي سره برابر نه وه. والله اعلم. زما به له حکومت څخه هیله دا وي چي هغه سرې کرښي چي دښمنانو ته یې باسي یو ځل پخپله ورته وګوري، هسي نه دوی پخپله تېری ورڅخه کړی نه وي .
که څه هم چي د جنګ اور په هیڅ توګه سوړ سوی نه دی او له یوې تر بلي ورځي پوري په هر صورت زور اخلي؛ خو طالبانو، تازه، د الفتح په نوم جنګي عملیات اعلان کړل. ګواکي د الخندق عملیاتو سم کار نه وو ورکړی. حکومت، په مقابل کي، د خالد په نوم عملیات ( چې ښایی مطلب به یې د دوستم عملیات وي؛ ځکه چي رشید دوستم د صبغت الله مجددي، خالد بن ولید دی؛ او دا شرم به یې سل کاله وروسته په ګور کي هم ورسره پروت وي) ورته اعلان کړي دي، چي حکومت وایي یوازي دفاعي بڼه لري. په داسي حال کي چي د سولي په خبرو کي هیڅ ډول پرمختګ نه دی، یا لږترلږه مشهود پرمختګ نه دی سوی، حکومت او د سولي لپاره د امریکا استازي زلمي خلیل زاد د طالبانو دا نوي اعلان کړي عملیات وغندل او هغه یې د سولي په مقابل کي یو بل خنډ وباله .ګواکي د دې عملیاتو له اعلانېدلو څخه مخکي د سولي جریان ښه پرمخ روان وو .
په کابل کي د څو هفتو راهیسي د سولي لپاره د مصالحې د رهبري شورا د جوړېدلو او په قطر کي له طالبانو سره د خبرو لپاره د یوه با صلاحیته هیات د لېږلو لپاره خبري رواني وې. حکومت، د خپل پخواني معمول سره سم، د افغانستان تر ټولو بدنام کسان او د سولي تر تولو سخت دښمنان را وبلل او د سولي د چارو او مذاکراتو د پرمخ بېولو کار یې وروسپاره. د مسیر ورځپاڼه خو رپوټ ورکوي چي اولسمشر او د هغه نیږدې سلاکاران خو په زغرده وایی چي دوی غواړي د قطر مذاکراتو ته د سولي دښمانان ولېږي. سړی نه پوهېږي چي په دې صورت کي د سولي د خبرو معنی څه ده. البته که حکومت دا خبره کړې هم نه وي او یا سبا وربانديي پښېمانه سي، د مصالحې د وروستۍ ټاکل سوي شورا د غړو ترکیب د مسیر د ورځپاڼي رپوټ تاییدوي. سوله یو ګام بیا لیري سوه او خدای دي د مظلومو اولسونو پر حال ورحمیږي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ